الهي فرمان

« اي هغو کسانو چې ايمان يې راوړي دي (اي مؤمنانو!) ولې هغه څه وایاست چې عمل ورباندې نه کوئ؟»

(الصف - ٢)

شریعت

اوونيزه

دافغانستان دطالبانو داسلامی تحریک مرکزی نشراتی ارگان

نبوی ارشاد

مغه څوك له موږ څخه ندي چه خلك منحرف او افراطي قوميت ته رابولي ، مغه څوك له موږ څخه ندي چه په دغه منظور جگړه کوي . مغه څوك له موږ څخه ندي چه په همدې منکوري مړ شي .

(ابو داود)

دوهم کال دوه څلويښتمه گڼه پرله پسې (٩٢) | چهارشنبه د ١٣٧٦ هـ ش کال د تلې دمياشتي (٣٠) | د ١٩٩٧ ميلادي کال اکتوبر (٢٢) | د ١٤١٧ هـ ق کال د جمادي الثاني (١٩)

تذکر خطر ايمان است اگر به اين کلمات مقدس بي حرمتي کنيد .

در مرز ولايات بادغيس و فارياب:

دو صد تن افراد مليشه ها دستگير گرديد

ده ها تن کشته، يکصد رأس اسپ و صد ها ميل سلاح مختلف النوع دشمن به دست مجاهدين اردوي اسلامي افتيد

در نتيجه عمليات تصفيوي مجاهدين اردوي اسلامي در سرحد بين ولايات بادغيس و فارياب به تاريخ ٢٨ ميزان دو صد تن از مليشه هاي گلم جم با مقدار زياد سلاح هاي مختلف النوع دستگير گرديدند .

يك منبع مربوط امنيتي به آژانس اطلاعاتي باختر گزارش داد در اثر اين عمليات تصفيوي پيروز مندانه دو صد تن از مليشه هاي شرارت پيشه گلم جم با صد رأس اسپ و صد ها ميل اسلحه مختلف النوع ثقيل و خفيف به اسارت مجاهدين اردوي اسلامي در آمده و بيست تن ديگر آنان کشته شدند که در جمله کشته شده گان شش تن از قوماندانان آنها نيز شامل ميباشد .

همچنان منطقه جره کاملاً از وجود مليشه ها تصفيه گرديده و به دزدان و قطاع الطريقان مليشه هاي گلم جم ضربات کوبنده وارد گرديده و تعداد از آنها کشته شدند .

اين دهشت افگنان که ميخواستند با نفوذ در آن ساحه امنيت منطقه را مختل ساخته و دست به چور و چپاول اموال مردم زنند قبل از نفوذ توسط مجاهدين اردوي اسلامي با صد رأس اسپ و صد ها ميل سلاح هاي مختلف النوع اسير و سرکوب شدند .

مجاهدين اردوي اسلامي مستقر در سرحد بين ولايات بادغيس و فارياب با مورال عالي رزمي به شرارت پيشه گان و قطاع الطريقان ضربات کوبنده و مرگ بار وارد نموده و با دستگيري و اسارت آنها امنيت مطمئن را در منطقه ايجاد نموده اند .

دستگير شده گان با سلاحها و اسپ هاي غنيمت گرفته شده آنان به مراجع مربوط دولت اسلامي افغانستان تسليم داده شد

د ابو القاسم فردوسي په مدرسه کې د قرآن عظيم الشان د ښه تلاوت مسابقه تر سره شوه

د ابو القاسم فردوسي مدرسې د څلورمو، پنځمو او شپږمو ټولگيو د طالبانو تر منځ د قرآن عظيم الشان د ښه تلاوت مسابقه وشوه .

د باختر اطلاعاتي آژانس خبر راکړ : په هغه غونډه کې چې له همدې امله په دغه مدرسه کې جوړه شوې وه او د پوهنې وزارت ځينو رئيسانو او مسوولينو او ددغې مدرسې استادانو او زده کوونکو په کې گډون کړی و . لومړی د کلام الله مجيد څو ايتونه ولوستل شول او وروسته څو تنو مسوولينو د ديني علومو د ښوونې او روزنې، د دولت د اسلامي سياست او د پاك قرآن د فضيلت په باب خبرې وکړې او ددغې مدرسې طالبان يې د تجويد او د ښه تلاوت په اصولو سره د پاك قرآن د زده کړې لپاره کې وهڅول . وروسته ددغې مدرسې مسوولينو تياري څرگند کړ چې خپل ټول عقل، پوهه او فکري خواکښتې د ديني علومو د ښوونيزو اموزشي پلانونو د طرحه کولو او په درسي ټولگيو کې په طالبانو باندې د هغوي د تطبيق په لاره کې په کار اچوي .

د خوراکي موادو د نړيوالې ورځې د نمانځلو په مناسبت د افغانستان د سرپرستې شورا د رئيس محترم الحاج ملا محمد رباني پيغام

الحمد لله رب العلمين، والعاقبة للمتقين، والصلوة والسلام علي سيدنا اشرف الانبياء والمرسلين و علي اله و اصحابه اجمعين،

مسلمانو وطنوالو :

السلام عليکم و رحمة الله و برکاته،

خوښ يم چې د خوراکي موادو د نړيوالې ورځې د نمانځلو په مناسبت تاسو او په همدې ډول د نړۍ گردو هيوادونو او نړيوالو ټولنو ټولو ته خپل پيغام وړاندې کوم .

ټولو ته ښکاره ده چې د دوه ولسيزو د جگړې په نتيجه کې زموږ هيواد په کنډرو او کنډوالو بدل شوی او د هغه د زورو ډېرو ځينې لا هم ويني څاڅي او له بلې خوا ځينې د شر او فساد د ړنگې شوې او بدنامې اداري عناصر او د کمونستي رژيمو پاتې شوني او د هغو بالدتې باداران لا هم ددې کور وړانوونکي جگړې اورته لمنه وهي او په بربنډه توگه زموږ د هيواد په کورنيو چارو کې لاس وهنې کوي، خو دا يو انکار نه منونکي واقعيت دی چې دغې ډلو د اسلامي انقلاب او د مجاهدينو د خوځنده څواك په مقابل کې د مقاومت توان نلري او پدې ډول ډير ژر به د هيواد پاتې برخه هم د دوی د کړکيچ ځينې پاکه شي ان شاء الله .

د دوه ولسيزو د وړانوونکي جگړې په اوږدو کې نه يواځې په ميليونونو افغانان شهيدان او د هيواد نه هجرت ته مجبور شول بلکې د همدې جگړو په نتيجه کې د افغانستان ټول اقتصادي ټولنيز او مالي بنسټونه يا په کلي توگه ړنگ شول او يا تر ډيره حده پورې بې زيانونه وليدل .

د جگړې د خواشينوونکو نتيجو په لړ کې د نورو اقتصادي بنسټونو په شمول

غلورمخ

د مرزا طاهر قادياني د خاص سکرتر په شمول :

يو مل او پنځه ويشت تنه قاديانيان د اسلام په سپيڅلي دين مشرف شول

په کويت کې د مرزا طاهر قادياني د خاص سکرتر حسن بن محمود عوده په شمول يو سل او پنځه ويشت تنه قاديانيان د اسلام په مقدس دين مشرف شول

د نړيوالو خبري سرچينو د خبر له مخې : تيره ورځ د کويت ښار د تکبير د انگازو او لوېو خوښيو شاهدو او دا خوښي هغه وخت څرگنده شوه چې د مرزا طاهر قادياني د خاص سکرتر په شمول يو سل او پنځه ويشت تنه قاديانيان د کويت په مرکزي جامع مسجد کې د لا اله الا الله د کلمې په ويلو د اسلام په مقدس دين مشرف شول .

د هيوادوالو د سر، مال او ناموس د چور او تالان په خاطر:

د شمال په اصطلاح متحده جبهه په خپل خيالي حکومت کې د کورنيو چارو وزارت!!! حزب وحدت ته سپاري

د هغو خبرونو له مخې چې د شمال ائتلاف په اړخ خپاره شوي څرگنده شوې ده چې دغه ائتلاف د کورنيو چارو وزارت د سپارلو وعده د کشتمند له مليشو «حزب وحدت» سره کړې ده که څه هم پدغه ائتلاف کې دومره درزونه او فاصلې موجودې دي چې څوځلې واره پدغسې ژمنو او وعدو پښې اېښودل شوي او د خيالي او فضايي څوکيو پر سر ناندرو او شخړو يکې هميشه دريځونه او مقاصو نه بدل کړي دي خو بيا هم دغه اعلان د ائتلاف له پټو نيتونو او هدفونو نه پرده پورته کوي او له ولس او خلکو سره د دوی د ظلم او تيري څرگندونه کوي د حزب وحدت د ماضي او خانگړتياوو له مخې سړي دا په باور سره ويلی شي چې ائتلاف غواړي له دغه ټاکنې نه د افغانستان د مظلوم ولس په تيره د کابل ښاريانو په سرونوکي د ميخونو ټکو هلو د تيونو د غوڅولو او په کانتينرونوکي د سوځولو

غلورمخ

څو تنو ملي سوداگرو ژمنه وکړه چې د اسلامي دولت او د هيوادوالو د اقتصاد د پياوړتيا په خاطر له هيڅ راز هلوځلو نه ډډه نه کوي

د افغانستان بانك عمومي رئيس د تلې د مياشتې په ٢٧ مه له غرمې مخکې د خپل کار په دفتر کې د هيواد له يو شمير ملي سوداگرو سره وکتل . او دې سوداگرو ژمنه وکړه چې د اسلامي دولت او د هيواد د اقتصاد د پياوړتيا په خاطر له هيڅ راز هلو ځلو نه ډډه نه کوي

د باختر اطلاعاتي آژانس خبر راکړ : په دې کتنه کې محترم مولوي عبدالرحمن زاهد د هيواد ملي

غلورمخ

د څه د پاسه سلو ميليونو افغانيو په ارزښت د دولتي عراده جاتو پرزې ترلاسه شوې

د څه د پاسه سلو مليونو افغانيو په ارزښت د ډول ډول دولتي عراده جاتو پرزې په دې وروستيو وختو کې د کابل ښار له مربوطاتو نه کشف او تر لاسه شوي . د باختر اطلاعاتي آژانس خبر راکړ : د کورنيو چارو وزارت له جنايي جرمونو سره د مبارزې دعمومي رياست د موظفينو او منسوبينو د هلو ځلو په نتيجه کې په دې وروستيو وختو کې د څه د پاسه سلو مليونو افغانيو په ارزښت د ډول ډول دولتي موټرونو پرزې د کابل ښار د پوليسي ناحيې مربوط د عبدالرحيم ، شير آقا او د محمد ظاهر د استوگنې له کوټونو نه تر لاسه شوې . دا ترلاسه شوې پرزې د رباني د مفسد رژيم په دوران کې لوټ کړې شوې وې .پېښه تر غور او تحقيق لاندې ده

متحدي جبهې ته د ايراني وسلو ورکول تائيد شول

د مزار شريف په ښار کې د متحدې جبهې له کسانو سره ايراني ټوپکې او کلاشنکوفونه ليدل شوي دي

سهار ورځپاڼه

په پېښور کې خپرېدونکې سهار ورځپاڼه په مزار شريف کې د خپل خبريال له خولې ليکي چې : د مزار شريف په ښار کې په سلگونو وسله وال کسان په گرزمو او گرځيدو وړاگرځيدو بوخت دي ددې کسانو په غاړو کې دوه ډوله وسلې تر سترگو کيږي چې څخي يې د ښکاره ايراني شوروي اتحاد جوړې شوې وسلې دي —

غلورمخ

د المان د همرفوروم ، اي اي ام او د ناروې د کميټې موسسو زموږ له ناروغو هيوادوالو سره د همکارۍ ژمنه وکړه

د المان همرفوروم ، د اي اي ام د «نور» روغتون او د ناروې د کميټې موسسې حاضرې شوې دي چې د ماشوم د روغتيا د روغتون د اورتوپيدي د ناروغانو په تداوي ، د غزني ولايت د اندړو ولسوالۍ د چارډيوال د روغتون په سمبالولو او د هيواد د جنوب د ولايتونو د سترگو د ناروغانو په تداوي کې د عامې روغتيا له وزارت سره همکاري کوي .

د باختر اطلاعاتي آژانس خبر راکړ : دغه تکي په هغو کتنو کې وڅيړل شو چې د عامې روغتيا وزارت سرپرست محترم الحاج ملا محمد عباس اخند د خپل کار په دفتر کې ددغو موسسو له مسوولينو سره تر سره کړې

غلورمخ

د ملي جنبش مشر زه يم او دوستم زما د يو پوځي منصبدار حيثيت لري

مالك

په شمال کې په اصطلاح د ملي جنبش پخوانی او نهشيدلی مشر چې اوس يو ځل بيا د اسلام او د افغانستان د ځمکنی بشپړتيا د دښمنانو لخوا د شرارت او فساد لپاره راوستل شوېدی تيره شپه له بي بي سي راډيو سره د يوې مرکې په ترڅ کې دعوه وکړه چې د متحدې جبهې لخوا د پلخمري په غونډه کې دی د شمال د عمومي

غلورمخ

ما د طالبانو ملاتړ نه دی کړی !!!

مولوي فضل هادي شينواري

مولوي فضل هادي شينواري په ځينو اخبارونو کې دده نه منسوب بيانونه چې گويا ده د طالبانو ملاتړ کړيدی رد کړيدی او د وحدت ورځپاڼې د تلې ۲۲ گڼه کې د ده يو بيان خپور شويدی چې په کې راغلي دي : « ما د طالبانو ملاتړ نه دی کړی او د مشرقي د علماء و

غلورمخ

سرمقاله

دلوی خدای (ج) په نامه

د ډاکټر ناربرټ هول اعتراف

د تلې په ۲۳ مه د بي بي سي د کابل خبريال د ډاکتر هول له خولې اعترافي هغه خبري خپري کړې چې هغه په کابل کې په يوه خبري کانفرانس کې وکړې :

« ډاکتر هول دا خبره ومنله چې په افغانستان کې په کار اچول شوي د تيرو پنځو کلونو هڅو يې هيڅ نتيجې نه دي ورکړي، مگر دي ددې پړه په ملل متحد نه اچوي ، ده پړه په افغانو دلو واچوله چې دوی د اوږدې مودې لپاره ستراتيژيك ليد نه شي کولای، هول وويل : په ملگرو ملتو کې په لوړ کچ سره داسې فکر پيدا شوي چې د افغانستان په هکله د ملگرو ملتونو په نظر کې بايد بدلون راوستل شي، هول وويل : پخوا ملگرو ملتونو د جگړه مارو دلو په مينځ کې د تگ راتگ کولو، تگ لارې ته مرکزيت ورکړې ؤ چې دا تگ لاره د ناکامۍ سره مخامخه شوه، اوس وخت دی چې د افغان مسئلې حل د هيواد څخه د باندې د راايستلو هڅې وشي، په افغانستان کې د دوامداره جنگ تر ټولو لوی علت په دې هيواد کې د گاونډيو

دوهم مخ

يادداشت موسسه "اکتيد" عنواني هفته نامه "شريعت"

موسسه محترم «اکتيد» طي يادداشت خويش به ارتباط گزارش هفته نامه شريعت ، شماره هاي (٨٧-٨٨ و٨٩) نگاشته است که ما متن کامل آنرا بدون کم و کاست غرض آگاهي خوانندگان عزيز به نشر ميرسانيم .

« به اداره محترم هفته نامه وزين شريعت !

السلام عليکم و رحمة الله و برکاته

به جواب موضوع نشر شده در هفته نامه شريعت تحت عنوان «اين همه مؤسسات و اين همه مشکلات» و «۹۰٪ آرديکه به ما داده ميشود تاريخ گذشته است» مينگاريم :

تنظيم پروگرام خبازيها کار ساده نبوده و هر انتقاديکه بتواند اين پروگرام را بهتر سازد قدرداني ميشود .

توزيع کارتهاي نان در تفاهم و همکاري مستقيم شورا هاي محلي که متشکل از ملا امامان مساجد ، وکلاي گذر، ريش

صـ ٤

د لوگر د ولايت د څرخ په ولسوالۍ کې يوه ډله جوارگر ونيول شول

يوه ډله جوارگر او په مخدره موادو روږدي کسان د تلې د مياشتې په ۲٦ مه د لوگر ولايت د څرخ ولسوالۍ د امنيه قوماندانۍ د مؤظفينو له خوا ونيول شول .

د باختر اطلاعاتي آژانس خبر راکړ: محمد ظاهر ، گلاب

غلورمخ

د لوگر ولايت د بره کي په ولسوالۍ کې يوه اندازه وسلې او مهمات تر لاسه شول

د لوگر ولايت د بره کي برك ولسوالۍ له مربوطاتو نه په دې وروستيو وختونو کې يوه اندازه ډول ډول وسلې او مهمات تر لاسه شول .

د باختر اطلاعاتي آژانس خبر راکړ : په دغو وسلو او مهماتو کې يو دوه اتيا ملي مشري توپ، يو هاوان، يوه دهشکه، يو اربې جي توغندی، پنځوس کلاشينکوفونه ، يو سل ډزې، لس لس ډزې ، د زيکويو او دهشکې يو

غلورمخ

د چك په ولسوالۍ کې د حضرت عمر فاروق «رض» د عالي مدرسې د ترميم کار بشپړ شو

د حضرت عمر فاروق د عالي مدرسې د ترميمولو کار چې څه موده مخکې د ميدان وردك ولايت د چك په ولسوالۍ کې پيل شوی و په دې وروستيو وختو کې بشپړ او دغه مدرسه بيا پرانستل شوه .

د باختر اطلاعاتي آژانس خبر راکړ د ميدان وردگ ولايت د چك ولسوالۍ د حضرت عمر فاروق «رض» د عالي مدرسې د ترميمولو کار چې د افغانانو لپاره د مرستو د سمون د دفتر

غلورمخ

خبرتيا

د شريعت اوونيزې اداره په بهر کې ميشته و افغان مهاجرو ورونو ته چې په شريعت اوونيزه کې گډون لري او يا په راتلونکې کې گډون کوي خبر ورکوي چې : د اشتراك وجه پوازې او پوازې په لاندې جاري بانکي حساب را وليږي او له نورو لارو نه يې له راليږلو نه ډډه وکړي .

Account No :
71-8 Allied Bank of Pakistan LTD
Shopping Plaza KarKhano Peshawar

حضرت علي کرم الله وجهه فرمايي:

د خلکو په مخ کې چاته نصيحت کول د هغه سپکول دي

شریعت
دامتیاز خاوند : دافغانستان دطالبانو اسلامي تحریك
دتأسیس کال : ١٣٧٤ هـ ش
: د لیکوال هیئت ترنظر لاندي
مسؤول مدیر : الحاج مولوی عبد الرحمن احمد «هوتك»
مرستیال : ملا أسد الله «حنیفي»
دیوې ګڼې بیه : په هیواد کي (١٠٠٠) افغانۍ
په پاکستان کي (٢) کلداري
آدرس : کابل وزیرأکبر خان مینه /سرك١١/ کور (٥٢٠)
تیلفون : ٢١٢٨١ - توزیع و شکایات ٦٢٨٥٩
پوست بکس : (٤٧١)
په پیښور کي : دطالبانو نمایندګی/ تیلفون: ٨٤٤٣٢١-٨١٨١٥٧-٨١٥٦٢٧
جاري حساب : ٤٠٢٨٥/٧ د افغانستان بانك مرکز

د سرمقالي پاتي برخه

هیوادونو لاس وهنه کیداي شي ... »

مونږ وایو چي خبري دي په ځاي دي خو ډېر ناوخته دي پخپل عارفانه تجاهل اعتراف وکړ او پره په تاده او په هغه چا چي تاته یې لاربښوونه کوله ځکه ته او هغه مرجع چي ته یې دغي دندي ته ټاکلي یې لا پخوا پوهیدئ چي داسي تګ راتګ او خبري اتري یې ګټې دي، ځکه تا او ستا ملګرو له داسي خلکو سره هم ناستي ولاړي کولي او لسونه مو تیارول چي که څه هم افغانان وو خو د مسئلي په حل کي یې هیڅ رول نشواي لوبولاي؛

داکتر هول او هغه مرجع چي دي یې را استولي لا پخوا پوهیدل چي هغه ګاونډیان چي په افغانستان کي سوله د ځان په خیر نه ګڼي بر بنډي لاس وهني کوي مګر دوي ځانونه ناګاره اچولي وو، د افغانستان اسلامي دولت په وار وار وړاندېزونه ورته وکړل چي د هیواد په هوایي ډګرونو او شکمنو لارو باندي بیدار څارونکي وټاکي مګر دوي پري هیڅ غوږ و نه ګراوه ؛ معلومه نه ده چي اوس کوم لا مل دغسي اعتراف ته هڅولي دي ؟

بله خبره‌دا ده چي که په افغانستان کي د افغانستان دښمنان او بد نیته ګاونډیان سوله د ځان په ګټه نه ګڼي او د سولي د بهیر مخي ته خنډونه را پیدا کوي خو کوي به یې ، مګر د ملل متحد په ٥٢ مه عمومي غونډه کي د افغانستان د مشروع او با صلاحیته دولت د نماینده په ځاي د لادرکه رباني نماینده د افغانستان د مجاهد ملت په کرسي چا کیناوه؟

که دغه کار هم دافغانستان ګاونډیانو کړي وي نو بیا خو دغه نړیواله سوروره او نومیالي موسسه هیڅ واك نه لري او د هغه چا په سرخاوري دي چي الله تعالي ته تمه نه کوي او دغي مؤسسي ته تمه کوي؛ او که دغه کار ددغي مؤسسي د رهبري مقام له خوا نه شوي وي نو بیا خو یې نه یوازي له خپل پاخه او پخواني غړي (د افغانستان ملت) سره خیانت وکړ بلکي ددغي موسسي له اصولو سره هم خیانت کوي بلکي اهانت یې کوي او د خلکو په پام کي یې سپکه او یې واکه موسسه ګرزوي او د عدالت تمه تري نه کوي؛

په هر حال اوس هم وخت دي کـه د ملل متحد چارواکي له دي نه وروسته په حقایقو سترګي پټي نه کړي او کار په واقعیتونو بنا کړي ډېره ممکنه ده چي ددغي اوږدي ستونځي حل ته لنډه او عملي لاره پیدا کړي .

والله یقول الحق و هو یهدي السبیل

په افغانستان کي د بیرغونو لنډ تاریخ

رازقي

زمونږ د لرغوني هیواد ګران افغانستان په فلکوریکي ، فرهنګي او تاریخي بډایه ګنجینو کي د بیرق ، بیرغ، توغ رایت، علم، لوا ، درفش، جنډې او داسي نور نښانونه د همیشه دپاره ډېر سپېڅلي ، لوړ او درونډ مقام درلودلي دي، او زمونږ د پنځه زره کلن تاریخ د لوړو او ژورو په ګردو د ورانونوکي زمونږ د شریفو او مومنو ولسونو د اسلامي، افغاني او انساني خورا لوړو ارمانونو او د ازادي غوښتني د مبارزو او مجاهدو او د ملي نوامیسو څخه د ساتني او دفاع په تاریخي رسالتونو او ملي مکلفیتونو کي د هغوي د سر شاري میړاني، بې ساري سرښندني او تلپاتي قهرمانیو ویانده تمثالونه دي .

د لمر د زرینو وړانګو سره د طاوس د وزر بیرغونه زمونږ د نومیالیو نیکونو د لرغوني ټاټوبي (٤-٥) زرو کلونو د مخه په تاریخي ادبیاتو او کلتور کي ځلیدونکي انعکاسات لري. د مثال په توګه د لرغوني بلخ توغونه چي د هغه د ودانیو په جګو برجونو باندي به په رپیدو وو د بخدي او بخدیانو د برم او د بد بې پوره ښکارندوي دي .

زمونږ د هیواد د بیرغونو او نښانونو، تور، سره، شنه او سپین رنګونه اوږدي تاریخي ریښې لري چي بشپړه څېړنه یې ددي لیکني د حوصلي څخه دباندي خبره ده او د موقع نه په استفادي سره دا دي دلته په افغانستان کي د اسلامي دوري راهیسي ددغو بیرغونو او نښانونو په هکله لنډ معلومات وړاندي کېږي .

په دوهمه هجري پېړۍ یعني په ١٣٩ ق کال کي د لومړي ځل دپاره خراساني ابو مسلم د هغي زماني د افغانستان نومیالي سیاسي قاید په خپل مرقد کي هغسي یو بیرغ پورته کړ چي د ډنډې اوږدوالي یې څوارلس متره ته رسیده او پر څوکه باندي یې څو متره خامشا تاو شوي وه ، ددي بیرغ عربي نوم «رایت ظل» ؤ او تور رنګ یې درلود دغه بیرغ ده ته د عباسي خلیفه له خوا ورسپارل شوئ و د دوهمي پېړۍ په وروستیو کي د هارون الرشید زوي مامون الرشید له بغداده بیرغ راووړ چي تر پنځو سو زیاتو کلونه ددي کورني د واکمني بیرغ ؤ او شین رنګ یې درلود باید وویل شي چي د غزنویانو د واکمني تر دوري پوري د افغانستان د ټولو بیرغونو اکثره رنګونه تور وو د غزنویانو د دوري په موده کي (٣٨٧-٥٤٨) په دغو بیرغونو کي یوازي دومره بدلون راغي چي د سلطان محمود شاهي ګارد د پوځیانو (چي بهرامي مریان نومیدل) په بیرغونو کي یو زمري او د څو تورو شکل ورزیات شوي و .

د غوریانو د واکمني په دوره کي هم د شاهانو د بیرغونو رنګ سور ومنل شو او بیا هغه وخت چي په افغانستان کي د میرویس بابا په مشرتابه د هوتکي کورني د ملي خپلواکي د تر لاسه کولو وروسته د واکمني د چارو واګي په لاس کي ونیول شول (١١٦٠-١٢٥٨) بیا هم هغوي ملي بیرغ درلود .

د لوي احمد شاه بابا په ویاړ نه دوره کي چي زمونږ د تاریخي افغانستان سیاسي سرحدونه پکي وټاکل شول د افغانستان بیرغ د غنمو وږي ، توره، او ستوري ؤ او دا نسان د افغانستان د هغي دوري په دولتي بیرغ کي د استعمال وړ ومنل شو چي زمونږ په ملي بیرغونو کي تر ننه پوري د غنمو د وږي مقام زمونږ یوه تاریخي عنعنه را پاتي ده .

د بارکزو د واکمني په دوره کي د امیر عبدالرحمن تر دوري پوري د افغانستان بیرغونو تور، سور او شین رنګ درلود او دا بیرغونه به په عسکري قطعاتو کي پورته کیدل .

د امیر شیر علي خان د واکمني په دوره کي په دي بیرغونو کي کلمه، طیبه، د الله او پیغمبر «ص» نوم، د خلفاي راشدینو نومونه، د جهاد او فتح په باب ایتونه ورزیات شول .

د امیر عبدالرحمن د دوري د بیرغ رنګ تور او په نښان کي یې منبر، ټوپك، توره د توپ صفحه ، او د غنمو وږي په سپین رنګ لیکلي شوي وو او تر دي وخته پوري په افغانستان کي د ملي دولتي بیرغ او علم مبارك یو تر بله نه وو جلا شوي خو د امیر حبیب الله خان په دوره کي په رسمي توګه پوځي بیرغ په علم او عقاب (ګریت) باندي یو له بله جدا شول چي علم یې د غونډ او لوا دپاره او عقاب یې په کنډك او ښکته جزوتامونو کي استعمالیده پخپله د پاچاهي د علم رنګ سور او نښان یې په زیړ رنګ و او ددي تر څنګه د شاهي کورني د ټولو غړو په منځ کي ددي بیرغونو استعمال رواج درلود، خو بیا په ١٣٣٧ ق کال کي چي د افغانستان خپلواکي اعلان شوه په دي ډول د شاهي بیرغونو استعمال منع شو .

او په دولتي بیرغونو کي هم د پوره یادوني وړ بدلون راغي چي تر دي وخته پوري په دغه کیفیت او خصوصیت نه وو پېژندل شوي .

د امیر امان الله خان د واکمني په دوره کي ددي بیرغ مشخصات په لاندي ډول یې بیږدل شوي دي :

د بیرغ تور رنګ د محراب او منبر د وو مشقابلو خواوو ته دوه کوچني بیرغونه چي دوو مشقاطعو تورو په یوه بیضوي دایره کي او ورسره د لمر وړانګي په سپینو خطونو ښکل شوي وي .

او علم مبارك چي په څلورو واړو کونجونو کي یې د جبرائیل، میکائیل، اسرافیل او عزرائیل نومونه په پورتني برخه کي یې بسم الله الرحمن الرحیم ، په مستطیله قاعده کي یې د افغانستان د عالیه دولت نوم د ټوټي د مرکز د یوي دایري په منځ کي د «الله اکبر» کلمي ددایري کیڼي خواته د دوو متقابلو دایرو تر منځه د فتح او په لاندني نیمه دایره کي یې د الله په لار کي د مرستي ایت شریف او د دوو نیمو متقابلو دایرو په منځ کي د محراب او منبر نشان د نښان څنډو ته دوه بیرغونه او دوه متقاطعي توري او د نښان په لاندني برخه کي په یوه بیضوي دایره کي د لمر وړانګي او دد وو متقابلو نیمه دایرو ښي خواته یو ایت شریف او د دي دوه نیمو دایرو په مرکز کي د طغرا په خط د پاچا نوم په پاسني څنډه کي طیبه کلمه او په لاندني څنډه کي الجنت تحت ظلال السیوف او د ټوټي په منځ کي الله او محمد «ص» سپېڅلي کلمي، د مرکز ښي خواته دایره کي د فتحي او نصرت په اړوند دوه ایته شریفه او ددي دوه نیمو متقابلو دایرو په مرکز په طغرا خط د پاچا نوم او د مرکز چپي خواته یې بیا هم د فتحي او نصرت په هکله ایتونه او بیا ددي دوه نیمو دایرو په منځ کي د محراب او منبر کوچني نشان او د نښان د واړو څنډوته د بیرق په بیضوي شکل کي برچه، تبر، ټوپك، تفنګچه ، توره، تله، او د نښان په لاندني برخه کي د پنځو ستورو نښان او د لمر وړانګي رسم شوي وي.

په ټوټه باندي دا ټول نښانونه په سپین رنګ ښکل کړي شوي وو یوازي د پاچا د شخصي عمل په سره ټوټه کي او د نښان مختلف شکلونه زر دوزي شوي وو، او دا علم مبارك په اردو کي د غونډ د قدمي په شمول په پورته قرارګاه ګانو کي ځړول کیده او یوازي په عسکري مراسمو کي به بهر ته را ایستل کیده .

د پاچا په نښان کي د بیرق په یوه مخ باندي په طغرا خط د هغه نوم او په بل مخ کي افغاني جوغه داره خولي د لمر د وړانګو سره په څنډه او د خولي په لاندني برخه کي دوه متقاطعي توري په سپین خط رسم شوي دي .

په کال ١٩٤٩ م د افغانستان بیرغ ټوټه په تور ، تور او شین رنګ وویشل شوه او تور مشخصات یې په خپل حال پاتي شول. یوازي د پاچا په سره بیرغ کي د یوه ځانګړي نشان پر ځاي په سپین خط هماغه محراب او منبر او د غنمو وږي ښکل شو .

ښایي زیاته شي چي پرته له دي زمونږ په هیواد کي نور غیر رسمي بیرغونه هم موجود وو چي د پیړیو پیړیو راهیسي زمونږ د ولسونو په منځ کي یې رواج درلود ، چي دا بیرغونه معمولاً په دوو ډولو دي :

یو ډول یې د ژوندیو پوري او بل ډول یې د مړو پوري تعلق درلود .

د ژوندیو بیرغونه زیاتره د دښمنانو سره په جګړو کي د غیر منظمو پوځي قطعاتو او داوطلبو مجاهدینو له خوا استعمالیدل، دي توغونو ثابت رنګ نه درلود او هر قوم به پخپل زړه هغه ترتیباوه . خو د زیاترو رنګونه یې تور، سره ، شنه ، زیړ، سپین او داسي نور وو . پر جګړو بر سیره په ټولنیزو چارو لویو جرګو، اشرونو، او لویو غونډو کي هم دا توغونه استعمالیدل.

مګر د مړو بیرغونه د هغوي پر قبرونو باندي ځړول کیدل، دي بیرغونو هم یو شان رنګونه نه لرل د شهیدانو د بیرغونو رنګ سور، د شهیدانو د قبرنو د بیرغونو رنګ شین او د عالمانو او روحاني شخصیتونو د قبرونو جنډې سپیني وي .

د سردار محمد داود د واکمني په وخت کي بیا دغه ملي دولتي بیرغ او نشان بدل کړي شو او بیا تر هغي په را وروسته رژیمونو کي څو ځله دا بیرغونه او نشانونه سره واوښتل را واوښتل خو د ملي دولتي بیرغونو ددي بدلونونو با وجود په علم مبارك کي دومره بدلون موجود نه ؤ او د همیشه دپاره د غونډ په پورته قدمو کي د قرارګاه وو په مخصوصو ځایونو کي چي عسکري تعلیماتنامو کي تثبیت وو خوندي ساتل کیدل همدا شان د افغانستان د وسله وال پوځ د داخله قطعاتو د دسپلین او ګارنیزیون په اصولنامو کي د علم مبارك په هکله په پوره تشریح او تصریح سره امرونه شوي دي چي د هغوي د مادو د تذکر څخه دلته صرف نظر شوي دي .

اوس چي زمونږ په ګران هیواد کي د درنو طالبانو اسلامي تحریك را منځ ته شوي او په الهي فضل او نصرت سره یې د معجزي په شان فتحي او بریاوي په برخه شوي له هماغي ورومبي ورځي راهیسي ددي تحریك بیرغ سپین دي چي پر ټټه یې بسم الله الرحمن الرحیم او پر ټټر یې طیبه کلمه لیکل شوي ده .

د اسلامي تحریك د بیرغ رنګ ځکه سپین قبول شوي دي چي د عبدالله د زوي حضرت جابر څخه په روایت « النبي «ص» دخله مکة و لوائه ابیض» یعني هغه وخت چي نبي «ص» مکي ته ورننوت بیرغ یې سپین ؤ .

نو په حقیقت کي زمونږ بیرغ زمونږ د ستر پیشوا او اخر الزمان محبوب پیغمبر حضرت محمد «ص» د جهاد د لاربښوونو ، بریاوو د فتحو او نصرتونو، پر باطلو د حق د غلبو او حماسو یوه نه هیریدونکي خاطره ده هغه چي تر هغه آنحضرت نه وروسته یې پیروانو ددغه سپین بیرغ د لاندي د سپېڅلي اسلام د حقیقت پلوشي د نړۍ هري خواته خپري کړي دي .

او همدا اوس به زمونږ افغان مسلمان ملت هم ددغه محمدي وياړلي او مقدسي لوا د لاندي د اسلامي وياړلي ، آباد او سر لوړي او متحد افغانستان د بیا جوړولو په سترو اسلامي او تاریخي چارو کي دا حق او حقیقت د نور قافلي، د فتحو کاروانونه او د عدالت بهیرونه د لاسترو او وروستیو بریاوو سر منزلونو ته رسوي .

و من الله التوفیق

مأخذونه :
١ - مطالعه تاریخ افغانستان از نگاه عسکري - لومړي ټوك لیکوال جلالي علي احمد
٢ - تاریخ حماسي و کلتوري افغانستان - لومړي ټوك لیکوال : وهابزاده محمد سعید
٣ - د افغانستان اسلامي دولت دوسله وال پوځ د داخله خدماتو اصولنامه د ١٣٧٤ چاپ
٤ - او زما په کوچني دایرة المعارف کي څیني ضروري یادداشتونه

د شریعت تبصره

زهر پاشیهای رادیو مشهد

رژیم مسلط بر مسلمانان در حال اختناق و مظلوم ایران کـه صلح و ثبات را در افغانستان بخیر خود نمیداند همیشه در تلاش دوام جنگ و خون ریزي و عدم ثبات اوضاع در افغانستان است؛

گروههاي دزدان آدم کش و خرمن سوزي که از بقاياي کمونیزم و ملیشه هاي ویژه، کشته‌ند است بکمك هاي مالي و نظامي و سیاسي بیدریغ خود بر پا نگهمیدارد بخصوص در همین نزدیکي ها کـه مزار شریف در محاصره قوتهاي مردم مجاهد مزار شریف و اردوي دولت اسلامي افغانستان بود رژیم مسلط بر تهران شب و روز را یکي کرده با همه توان و استطاعت مالي و نظامي در تقویه و نجات از سقوط ملیشه هاي مزدور خود همه تن سعي و تلاش و تگ و دو بود و نام آن را کمك هاي انسان دوستانه میگذارند ، سخن از خفا گذشته همه مداخلات بي شرمانه شان آفتابي بود و هست ، مهمات و سلاحهاي ساخت ایران، تفنگ داران ساخت ایران و همه چیز ساخت ایران بطور حجت قاطع بدست مجاهدین اردوي دولت اسلامي افغانستان افتاد؛

آقاي بروجردي را چه میپرسي که بیچاره از چند سال نیت اقامت نکرده همواره در سفر است و سفر، گاهي به مزار، گاهي بتاشکند، گاهي به مسکو، گاهي بدهلي و گاهي به بامیان و گاهي ... میرود و بیك آواز اعلان میدارد کـه براي اعاده صلح و آرامش مردم جنگ زده، افغانستان در تگ و پو است !! ولي مردم بینا و تا بیناي جهان مي بینند کـه از هیچ ، هیزمي کـه براي درگیري آتش جنگ در افغانستان بکار مي رود پرهیز نمیکند که نمیکند بلکه آن را به بها مي خرد و میآورد، تا مردم زجر کشیده ولي مجاهد و با وقار و خردمند افغان در آن بسوزانند، مگر نشنیده اند کـه « چراغي را کـه ایزد بر فروزد- کسي کش پف کند ریشش بسوزد »

این رژیمیکه بنام اسلام بمیان آمده بود بجایي رسیده که شریعت پاك قرآن و سنت که در افغانستان ببرکت تحریك اسلامي طالبان و دولت اسلامي افغانستان نافذ و مرعي الاجراء است نه تنها با آن دشمن درجه یك اند بلکه پیشواي روحاني و «ولي فقیه» شان آقاي خامنه اي آن را غیر اسلام و بر خلاف اسلام میگوید - نعوذ بالله تعالي- مگر اسلام شان که دعواي اقامه نظام آن را میکنند غیر از قرآن مجید و سنت است !! ملت ایران از روش ظالمانه و پالیسي نا معقول این رژیم بستوه آمده نه تنها اهل سنت و الجماعة در ایران سرکوب و در حال اختناق اند بلکه تمام ملت ایران را بسوي انزواي اقتصادي و سیاسي و اجتماعي کشانیده همه، جهان را با ایشان دشمن و بدخواه ساختند؛

اگر دور نرویم رادیو مشهد که رادیوي دولت ایران میباشد طوري فعال کرده اند که توګویي لودسپیکر مخالفین دولت اسلامي افغانستان است شب و روز در دروغ بافیها مصروف بوده هر عمل مخالفین دولت اسلامي را توجیه و آراسته جلوه میدهد مگر در عین زمان با آنان نیز در خفا بدخواهي دارند زیرا :

بهر موقع مناسب کـه دولت اسلامي افغانستان اراده و اعلان مذاکرات با مخالفین میکند رادیو مشهد بقومانده رژیم حاکم بر مردم مسلمان ایران آن را به غرض سؤ تعبیر میکند و غیر صادقانه میخواند؛ بناً مخالفین دولت اسلامي که نوکران گوش بفرمان آنها اند مذاکرات را رد میکنند و یا شرطهاي نا معقول و غیر عملي را بمیان مي آورند،

در این روز ها کـه یك باردیگر دولت اسلامي افغانستان آماده گي خود را براي حل مسئله، پایان جنگ و بمیان آوردن صلح و ثبات تکرار کرد، رژیم تهران بادر نظر داشت موقف ضعیف مخالفین دولت اسلامي افغانستان ، از ترس اینکه مبادا مذاکرات و تفاهم صورت خواهد گرفت و به توافق خواهد انجامید رادیو مشهد را قومانده زهر پاشي داده و آمادگي دولت اسلامي افغانستان را ناشي از ضعف و زاده شکستهاي نظامي و سیاسي تعبیر کرد - لا سمح الله -

از این موقف رژیم تهران بر مي آید که براي خیر و بهبود گروه هاي نوکر خود هم کار نمي کند زیرا تلاش میکند براي دولت اسلامي افغانستان طعنه سازي نماید تا بمذاکرات حاضر نشود و جنگ دوام کند و براي حصول مقاصد شوم پوشیده و پنهان رژیم حاکم بر تهران فرصت هاي وسیع و کافي بدست بیاید - لا سمح الله -

از این طرز خصومت آمیز و دشمنانه و پالیسي نا معقول نه تنها خود رژیم تهران در نظر افغانها و امت اسلامي و جهانیان منفور است بلکه بر حیثیت اسلامي و تاریخي ایران اسلامي و ایران باستان ضربات کوبنده را وارد میسازند، و از این روش هاي ویژه و انزواګرایانه ملت و سیع ایران را از فقر و انزوا فقیر تر و منزوي تر مي گردانند، چه خوب مي شود اگر سري از روزن معقولیت و هوشمندي بر آرند و پیش از اینکه پاداش پالیسي هاي نا معقول و دشمنانه خود پیش از دیگران خودشان به بینند طریق دشمني را با همسایه گان و دوستان اسلامي کنار بگذارند و از راه دوستي و روا داري و حسن همجواري با همسایگان و دوستان پیش آیند .

یوه ښځه څنګه کامیابه میرمن جوړیداي شي؟

احمد شاه وحدت

پدي کښي شك نشته چي ډېري میرمني د ځان او کورني لپاره د یوي کامیابه کورني ژوند غواړي او ددي بنه ژوند د لاس ته راوړلو لپاره مختلفي لاري او وسیلي په کار اچوي ، که غواړي چي د یوي نیکمرغي کورني ژوند ولري نو د لاندي ټکو پندونو په عملي کولو سره یې تر لاسه کولاي شي؛

١ - د ورځي په پاي کښي خپل میړه چي د ورځني کار او وظیفي څخه ستړي راستون شوي وي په روڼ تندي او ښه الفاظو استقبال کړي . او که ظاهري منظر او ښکلا دي هم ښه وي بهتره ده .

٢ - کله چي دي میړه د کار او وظیفي څخه راستون شي پرته له درنګه ورته خوراك تیار کړه .

٣ - د میړه په وړاندي د خپل مرض، دردونو او مشکلاتو د ضرورت څخه ډېر شکایت مه کوه او کوښښ کوه چي خپلي سختي او ناروغي ورته کم وښایې .

٥ - د میړه ، د پلارګنۍ، ملګرو او دوستانو قدر کوه او میړه ته دا احساس هڅکله ورنه کړي چي د هغه میلمانه تاته د قدر وړ ندي .

٦- ملګرو ، ګاونډیانو او عامو خلکو ته د خپل کورني ژوند احوالغه بیانوه ، او د خپل کورني ژوند داخلي ستونزي، او رازونه چاته مه په ډاګه کوه .

٧- میړه ته دا احساس مه ورکوه چي هغه د عیبونو او نقصونو څخه پاك دي او د مسؤولیت احساس نه لري او کورني ژوند ته په هیڅ اهمیت قایل نه دي بلکه هڅه وکړه چي د میړه د کوښښونو ستاینه وکړي او لدي لپاري یې نور هم وهڅوي تر څو د مسؤولیت احساس په کښي زیات شي او ویوهیږي چي کوښښونو ته یې د قدر په سترګه کتل کیږي او په کور کښي د احترام وړ دي .

٨ - دا فکر مکوه چي ستا ټولي مالي غوښتني یې ځایه او اضافي دي بلکي کوښښ وکړه چي خپلي غوښتني او ضرورتونه په مناسب فرصت کښي په ښه اسلوب میړه ته وړاندي کړي .

٩ - په خپل نظر او وړاندیز همیشه زورمه اچوه چي همدا نظر او رایه درسته ده او باید همدا ومنل شي پداسي حال کښي چي د میړه نظر اوراي ته اهمیت او د هغي د حیثیت د کمولو کوښش کوي ، بلکي همیشه خپل منځي تفاهم او محبت په فضا کښي مشوره خپله طریقه وګرځوه تر څو تاسي دواړه یوي مناسبي او درستي راي ته چي ستاسي د کورني ژوند لپاره ګټه وره وي ورسیږي .

١٠ - د اسلامي شریعت په چوکاټ کښي ټل هغه کارکوه چي ستا د میړه د خوښي باعث وي او د اولاد په تربیه کښي ورسره برخه واخله .

د پورته ذکر شویو پندونو او داسي نور پندونو «چي هر څوك یې په فطري ډول درك کولاي شي» په عملي کولو سره کولاي شي په خپل مشترك کورني ژوند کښي یوه کامیابه میرمن «چي د خپل میړه او اولاد لپاره د سعادت جوګه وي» جوړه شي .

غزل

ملا اسد الله «حنیفي»

د محمود په څیر غلام د خپل ایاز شوم
چي خبر د محبت په راز او نیاز شوم
مال او سر مي حواله کړلو دلبر ته
د عشاقو په ټولیو کي ممتاز شوم
په اخلاص اخلاص مي ځان تري صدقه کړ
نو د ښکلیو د مجلس شومه د راز شوم
د اشنا د شونډو غړپ ارزانه نه دي
ځکه زه له سره تیر شومه سرباز شوم
راشي راشي را تر غاړوزي ملګرو!
چي بر لاسي په رقیب شوم په غماز شوم
هلي ورشي ټول جهان پدي خبر کړي
لاړم وصل حقیقت ته په مجاز شوم
«حنیفي» به د خوبانو پاي بوسي کړم
له طفیله یي سرخیل شوم یکتاز شوم

هسکه غاړه

قاري فضل الدین «سراجي»

لاس به وانخلم څو ژوندي یم له جهاده
زما ګرانه هیواده زما ګرانه هیواده
یا به شهید شم یا به خلاص شي له فساده
زما ګرانه هیواده زما ګرانه هیواده
ځار دي له هسکو هسکو غرونو
سپینو ریاندو بیرغونو
غاړه دي هسکه وړه لا هسکه له شمشاده
نه زمونږ کور یي زمونږ مور یي
زمونږ د دواړو سترګو تور یي
څوک دي په مینه کي مجنون او څوک لیلا ده
ستا د دښمن د سر قاتل یم
مخ ته ولاړ د هر باطل یم
سر به یي پري کړمه والله راته روا ده
که زما په وینو تمامیږي
یا مي یو یو اندام غوڅیږي
«سراجي» تا غواړي له هر څه بي پروا ده

د ادب مرغلري

وشینده ګلان

رازقی

وشینده ګلان د شهیدانو په قبرو باندي
پورته کړئ جنډي د انقلابو په سرو باندي
دا خاوره میراث نه ده، رښتیني وارثان لري
تل به وي ژوندي په غیرتمنو ولسو باندي
وګورئ چي رنګ شو پاتکونه د ظلمو هډي
بلي شوي لمبي د زور واکیو په قصرو باندي
دغه یهبرونه ږ د حق چي مخ په وړاندي ځي
وي دي سل رحمته، زور او ځوان په غورزنګو باندي
وخو مولیدي تویلك شاهي چي رانسکوري شوي
راغلي ماتي پاتي د دښمن په سنګرو باندي
دا مومن ملت فتحه په فتحه ګام په ګام درومي
خپل اسلامي توغ وړي قوي متو، په سرو باندي
خومره به باطلو باندي حق چي تل غالبه دي
هومره بریالي دي هم دا نور په ظلمتو باندي
اي د هیواد زړه ښکلي کابله! چي ناجي دي شو
سل مبارکي په دي ژغورونکو قافلو باندي

بي تعبیره خوب

امید «نثار»

تنبتي ظالمانو وار شو تیر د میخاني
بیا به خداي رانه ولي د جبر زماني
بوچي فلسفي پوري بي خپله اوس خجل بي
د مارکس او د داروین د فکر نښته نیباني
خوب مو بي تعبیره سره دولي موټر کورنه شوه
کنډو د تاریخ کي شوي دا هر څه افساني
نه لرئ سکون سترګي مو ښکته سیالي نه لري
خپله مو کړي جوري ځانته هر خوا جیلخاني
اسلام اوله ملت سره خائن به تل رسوا وي
تښتي نن سبا پاتي بي نه شولي بهاني
«امید» مو ډیر قوي خداي او ملت راسره مل دي
د دین طالب به خیژي په مزار او میمني

نا اشنا خبري

ګوهري

ماسره د کبر او هوا خبري مه کوه
ګوره ماشوم نه یم راته دا خبري مه کوه
عقل لرم، فکر لرم، هوش لرم، بینا یمه
مانه د تیارو او د رڼا خبري مه کوه
نه غولیږم پام کوه په ښتو، بلو پوهیږمه
لاړه مي لیدلي ده خطا خبري مه کوه
هغه غولوه نادانه! تا چي زیږولي دي
خوله به دي کړه کړم ماته بیا خبري مه کوه
مخامخ مي پېر که، ملامت مي که بیا مړ مي‌ که
دا عادت ښه نه دي پسي شا خبري مه کوه
ځانته فکر وکړه په سلها عیبو لړلي یي
سر به ګریوانه کړه د بلچا خبري مه کوه
تا چي تیر ایستلي په خبرو خداي دي نه ښني
ملره دا بوچي بي مانا خبري مه کوه
ما یي پیژندلي ستا خبري مي تللي دي
بائه «ګوهري» ته نا اشنا خبري مه کوه

د خپلواکي سندري

حافظ

د وطن د لوړو غرو په ګړنګو کي
شپه او ورځ د خپلواکي سندري وایم
غمه ځه و رځه د نورو شپو میلمه شه
ما نور پریږده د ښادي سندري وایم

***

زه د ګران هیواد په ښکلو سردرو کي
چي اوچت کوي پرواز مغه شاهنازیم
د آسمان په شنو لمنو کي مي کور دي
خبر شوي د سپوږمي ستورو په رازیم

***

د وطن د محبت ډیوه بلیږي
امتحان په پتنګانو د ایثار دي
بو له بله مخکي کیږي ابري کیږي
عجب وخت د شازلمیانو د ایثار دي

***

سر به ځار کړمه د وطن په موټي خاوره
زه ... به دا ګه وښیم دنیا ته
امانت زما د پلانیکه نه پاتي
زه به یي وسانمه نسل د سبا ته

د آزادی پلوشی

تسل شیوه وال

د سمون او ښادي هیلي، راټوکیږي او غوړیږي
د بابا د غرو لمني غوړیدو ته موسیدلي
هلته یارو پامیزاد کي، لر د سپین‌غره په ناووکي
د څپاند آموله غاړي، د زاړه بخدي سلام ته
د هلمند په ایلبندوکي، د کونړ په سر دروکي
د غوراتو په ورشوکي، غیرتونه په آتڼ دي
دیکتیا په شنو ځنګلو کي تریدلي غر ځني دي
پلوشي د آزادي دي چي وطن مو پري رڼا دي
دا زمونږ د ځلمو متي، دا به سېري ډیري پتي
په دي خوار مظلوم ملت موږهوسا ژوند زيري وکړئ

ښاپیري د ارمانونو هندوکش کي پري تخنیږي
د بلون د موسم پرخه، سوکالي ته پري وریږي
د ځلمي شپونکي شپېلۍ ته ناوکي زړکي ګډیږي
د دهقان بیا هیوته د مستي ورمي چلیږي
جوړه تالنده بریښنا ده، سمي غروته پري خوزیږي
د میوند په سپین ډګر کي وطنپالي زرغونیږي
د ګوریت د وزرو سیوري، کانو، بوټو کي خوریږي
د کابل ښکلي فضا بي نیکمرغیو ته هځیږي
نږوي به وروستي ځني، لوري، ځوري به سمیري
مالیدلي نوي خوب دي دا وطن به آبادیږي

د «تسل» د احساس کریکي سپېلني له میړنو شه
دا سوچه ملي یادګار به تر عمرونو پاتي کیږي

کورنی فقه

(۸)

پاکی جامی اغوستل او ستره ګرځیدل کبرنه دي

قاضي محمد حسن «حقیار»

د اسلام مبارك دین د پاکي او ښکلا دین دي په دي سپیځلي او مبارك دین کي په نظافت او پاکوالي باندي ډیر تاکید شویدي او حتي د فرضیت درجي ته بي رسولي دي؛ اسلام وایي چي انسان د بدن د ښکلا او زینت نه لومړي باید نظافت او پاکي ته اهتمام او توجه وکړي ځکه چي پاکوالي د هر ډول زیب او زینت لپاره د بنسټ حیثیت لري. رسول الله ﷺ فرمایي: « تنظفوا فان الاسلام نظیف» ابن حبان یعني : « ځان پاك وساتي ځکه چي اسلام د پاکۍ دین دي»

رسول الله ﷺ به صحابه د بدن، جامو، کور او چاپیریال پاکوالي او صفایي ته رابلل او د سر، غاښونو، لاسونو او مخ په پاکوالي خو به يي په ځانګړي ډول ډیر تاکید کاوه. د نظافت او پاکي اهمیت له دي هم ښه جوتیږي چي الله«ج» پاکوالي په مسلمانانو فرض شوي مهم او لومړني عبادات (لمانځه) لپاره هم د کنجي (کلي) په توګه وګرځاوه تر دي چي الله«ج» هغه لمونځ نه قبلوي چي د غسل یا اودانه بېره دلمونځ کوونکي بدن، جامي او د لمانځه ځاي پاك نه وي الله «ج» فرمایي:« و ثیابك فطهر» المدثر-٤ یعني : « او کالي (جامي) خپلي پس پاکي ساته».

رسول الله ﷺ به په هري ممکني وسیلي خلك پاکوالي ته ترغیبول او حتي جنت ته د ننوتلو لپاره بي هم د نظافت تصدیقنامه (سرټیفکیټ) ضرور وباله حضرت عایشه «رض» روایت کوي چي رسول الله ﷺ فرمایي « الاسلام نظیف فتنظفوا ...» یعني « اسلام د پاکي دین دي تاسي هم ځان پاك وساتي ځکه چي جنت ته به داخل نه شي مګر پاك» مجمع الزوائد.

رسول الله ﷺ فرمایي: النظافة تد عوا الى الایمان و ...» یعني:« نظافت ایمان ته بلنه کوي او ایمان خپل ملګري سره په جنت کي وي »طبراني.

په صدر د اسلام کي به عرب په دښتو او صحراوکي اوسیدل او دوي به اکثر د ښکلا او پاکي په هکله بي اعتنا او بي پروا وو نو رسول الله ﷺ په هغوي کي د پاکي احساس پیدا کړ او داسي بي وروزل چي د نړي تر ټولو مهذب او متمدن قوم تري جوړ شو.

د حدیثو په کتابونو کي راځي چي د رسول الله ﷺ خدمت ته یو تن حاضر شو او د هغه د سر او ږیري ویښته جر او غیر منظم وو رسول الله ﷺ د هغه په لیدلو د هغه خواته داسي اشاره وکړه چي ګویا د هغه د ویښتو د جوړولو حکم بي کړي وي هغه سري د رسول الله ﷺ په هدف پوه شواوخپل ویښته بي صاف او جوړ کړل او بیا د رسول الله ﷺ خدمت ته حاضر شو رسول الله ﷺ د هغه په دوهم ځل لیدلو وفرمایل « ألیس هذا خیرا من ان یأتي احدکم ثائر الرأس کأنه شیطان » ایا دا لدینه غوره ندي چي ستاسو یو تن راشي (او) ویښته بي د شیطان په څیر پراګنده او جر وي « موطا اما مالك

رسول الله ﷺ یو تن ولید چي ویښته بي جر وو نو ویي فرمایل « اما وجد هذا ما یسکن به شعره؟ ورأی اخر علیه ثیاب و سخة فقال اما کان ...»

یعني « ایا دي سړي د ویښتو د ښافولو لپاره څه نه دي موندلي ؟ یو بل سړي بي ولید چي خیرني جامي بي اغوستي وي نو و بي فرمایل : ایا ده د خپلو جامو د وینځلو لپاره هیڅ نه دي موندلي ؟ » ابو داؤد.

